UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

**یوناما د جلال آباد مرګونی برید غندي**

کابل، د ۲۰۱۳ کال د اګست ۴ نیټه- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) پرونی هغه ځانمرګي برید چې په ختیځ کې د ننګر هار د ولایت په مرکز د جلال اباد په ښار کې د هندو ستان د قونسلګرۍ مخې ته تر سره شو او د ۹ ملکي وګړو د وژل کیدو او ۲۳ نورو د ټپي کیدو لامل شو، په کلکه غندي.

د دې پیښې زیاتره قربانیان هغه ماشومان وو چې څیرمه جومات ته د اسلامي لوست د زده کولو لپاره تلل؛ او په نورو کې عبادت کوونکي، هټیوال او ځایی وګړي شامل وو.

"دا حقیقت، چې دغه برید د یوناما د ملکی وګړو د تلفاتو د وروستنی راپور د خپریدو څخه یو څو ورځې وروسته ترسره شو، کوم چې دا روښانه کوِي چې جګړې افغان ملکي وګړو ته زیاتې ناخوالې او زیان اړولی دی، ډیر مایوس کوونکی او دردونکی دی." دا ټکي نیکولاس هیسم، د افغانستان لپاره د عمومی منشی د ځانګړی استازي مرستیال او د یوناما سر پرست څرګند کړ.
ښاغلي هیسم زیاته کړه ،څرنګه چې مونږ د روژې د مبارکې میاشتې د پای په درشل کې یو، زه یو ځل بیا د یوناما دا غوښته تکراروم او د جګړې د ټولو خواوو څخه غواړم چې د داسې کړنو څخه ډډه وکړي د کومو له امله چې ملکي وګړو ته زیان رسیږي او باید چې خپلې نړیوالې حقوقي ژمنې د ملکي وګړو دساتنې او د دوي د تلفاتو د مخینوي په برخه کې په بشپړ ډول رعایت کړي.

د ملګرو ملتونو د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ملکی وګړو د ساتنی د وروستی ۶ میاشتني راپور پر بنسټ، د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو په تلفاتو کې د تیر کال د همدې مودې په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې د ۲۰۱۲ کال کمښت یې شاته تمبولی دی. دغه شان راپور واضح کوي چې ماشومان په پرله پسی ډول د جګړې قربانیان ګرځیدلي دي، چې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د ماشومانو ۷۶۰ تلفات مستند شوي دي چې ۲۳۱ تنه په کې وژل شوي او نور ۵۲۹ تنه په کې ټپیان شوي دي- دغه شمیره د تېر کال په پرتله ۳۰ سلنه زیاتوالی ښیی.

یوناما په تکرار سره د هغو بریدونه غندنه کړې ده چې په ملکي ګڼ میشته او یا د ملکي وګړو د تګ راتګ په سیمو کې تر سره شوي او د هغو د بندولو لپاره یې غږ کړی دی، او همدارنګه په دې ټینګار کوي چې ملکی وګړي په بی توپیره او عمدي ډول سره په نښه کول دنړیوال بشردوستانه قانون څخه تیری ګڼل کیږي او کیدای شی چې په جنګي جرمونو کې حساب شي.

یوناما په پیښه کې د وژل شویو کسانو کورنیو ته خپلې د غمرازۍ مراتب وړاندې کوي او ټپیانو ته عاجله شفاء غواړي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**